بسم الله الرحمن الرحيم

# روسیه په اوکراین کې کندې ته د لوېدو په حال کې ده

داسې ښکاري چې روسیې د اوکراین د پوځونو نظامي وړتیا ته په کمه سترګه کتلي او په جګړه کې یې بېوسه بولي. روسیې پخپل هغه باور کې تېروتنه کړې ده چې اوکرایني سرتېري به یې د بریدونو پر وړاندې ونه درېږي. د روسیې د برید پر وړاندې د اوکراین د ولسمشر همداسې چوپتیا، له احتیاطه ډک چلند او نرمی ته کم کتل هم ناسم وو.

اوکرایني ځواکونو په لومړي سر کې د اوکراین په ختیځه برخه کې د روسي ځواکونو برید ته ځواب ورنه کړ. روسیې داسې فکر وکړ چې اوکرایني سرتېري د ځواب ورکولو وړتیا نه لري. د اوکراین جمهور رییس ډېره هڅه وکړه چې له روسیې سره جګړه پیل نه شي، په داسې حال کې چې هوښیار بایډن هڅه کوله چې روسیه په اروپا کې د ورانوونکې جګړې پیلولو ته وپاروي.

روسیې د اوکراین نظامي وړتیا ته په کمه سترګه وکتل. دغه کم ګڼل د غرب په نظامي تحلیل سره نور هم پیاوړي او وهڅول شول او داسې اوازې خپرې شوې چې ګواکي روسي ځواکونه به په نږدې ورځو کې کییف ونیسي. پر دې سربېره، روسیې پر خپله لوړه نظامي وړتیا غرور درلود.

روسیه په دونباس کې له ځمکني ملاتړه برخمنه وه، کله چې بلاروس له مسکو سره د مرستو هوکړه وکړه. دې هر څه پوتین نور هم مغرور کړ او د دې لامل شول چې هغه د اوکراین د وړتیا په تړاو ناسمه محاسبه وکړي، چې دا څه یې سیاسي فکر ته زیان ورساوه.

روسیې داسې پلان نه درلود چې ګواکي پر اوکراین د دوی برید به اوږد شي، بلکې روسیه په دې نظر وه چې کېدایشي دا جګړه په څو اونیو او یا څو میاشتو کې پای ومومي. په اوکراین کې د روسیې جګړه په نظامي دایره کې د سترې لوجستیکي نظامي ماتې د یوې بېلګې په توګه مطرح کېږي. د جګړې په لومړیو کې اوکرایني ځواکونه له روسي سرتېرو سره مسقیم ونه نښتل. پر ځای یې، د روسیې پر لوجستیکي موخو تمرکز درلود، چې د روسیې نظامي عملیات یې فلج کړل.

په ورته وخت کې روسیې د اروپا، ناټو او امریکا غبرګون ته هم په کمه سترګه وکتل. روسیه پر دې باور وه چې د اروپا انرژي د روسیې پر ګازو او تېلو ولاړه ده. داسې تر سترګو کېږي چې کرملین له اوکراین څخه د ناټو نظامي ملاتړ ناسم محاسبه کړی دی. دغه هېواد وړاندوینه یې کړې وه چې امریکا به سخت اقتصادي بندیزونه پرې ولګوي.

په هر حال، داسې وګڼل شول چې مسکو به څنګه چې په ۲۰۱۴ م کال کې د کريميې د نيولو پر مهال بنديزونو ته ټينګ شو، اوس به هم دا وړتيا ولري چې د ورته بنديزونو پر وړاندې ودرېږي. بلخوا، روسيې باور درلود چې له يوې خوا د روسيې پر انرژۍ پورې د جرمني له تړل کېدو څخه ګټه واخلي او له بل لوري به د امريکا ضد فرانسوي لورى هم وکاروي، څو د امريکا او اروپايي ټولنې تر منځ دريځ رامنځته کړي.

همدارنګه داسې ترسترګو کېږي چې پوتين د امريکا د پاليسی او سياسي فکري وړتيا په اړه ناسمه محاسبه کړې وه. روسيې باور درلود چې جګړه به يې د امريکا پر وړاندې ځواکمنه کړي، داسې چې د امريکا نړيوال باور به وساتل شي او له روسيې سره خبرو کولو ته به اړه شي.

وروسته به روسيه له امريکا او ناټو سره په امنيتي برخو کې نوي تړونونه لاسليک کړي چې په پايله کې به د اروپا په ختيځه برخه کې د روسيې د ګټو ساتنه وشي. هغه محاسبه ناسمه وه چې ګواکي امريکا په يو ګرداب کې د روسيې د بندېدو هڅه کوي. مسکو هم ناسم پوه شوی چې امريکا دغه فرصت له چين څخه د روسيې بېلېدل بلل چې روسيه يې لومړی د اوکراين لپاره ساتلې وه او وروسته به د دغه هېواد له کمزورتيا څخه د چين پر وړاندې ګټه واخلي. هغه محاسبه هم ناسمه وه چې ګواکي بايډن په يوه اوږده جګړه کې د اروپا او نورو هېوادونو د ښکېلتيا لپاره هڅه کوي.

په ياد ولرئ چې د سوريې جګړې د روسيې عظمت ته ناسم احساس ورکړ. روسيې داسې فکر وکړ چې ګواکي د پخواني شوروي اتحاد غوندې به يو ځل بيا خپل ځای ته ورسېږي. پوتين هيله څرګنده کړه چې له امريکا سره يوځای به د نړۍ د چارو رهبري وکړي. همدارنګه پوتين داسې فکر وکړ چې روسيه هم ستر قدرت ده او په حکومتدارۍ کې له امريکا سره برابره ده.

په افغانستان کې د امريکا سپکاوی، له چين سره پر سيالۍ د امريکا تمرکز، د متحده ايالاتونو دوه قطبي کېدل، د امريکا د ۲۰۱۶ م کال په ټاکنو کې د روسيې رول او د امريکا پر بېخبنسټونو د روسيې سايبري بريدونه هغه څه وو چې روسيې ته يې کاذب باور وکړ.

داسې فکر يې کاوه چې امريکا په ځوړ حالت کې ده او د دغه هېواد د چارواکو په باور چې کېدايشي اوس له دې فرصته د روسيې د ګټې اخيستنې وخت رارسېدلی وي. نو پر همدغه اساس روسيې خپل قدرت ډېر لوړ باله.

اوس اسلامي امت ته روښانه ده چې د نړۍ چارې د وحشي قدرتونو په لاس کې دي، يعنې هغه هېوادونه چې د بشر د وينو په ارزښت د خپلو ګټو خوندي کېدو په هڅه کې دي. اوس

يوازې اسلامي امت پاتې دی چې نړۍ د ښکېلاکګرو قدرتونو له ظلم څخه وژغوري. دغه قدرتونه اوسمهال لکه د ځنګل ځناور يو له بل سره جګړه کوي او کمزوري هېوادونه او ملتونه تر ستوني تېروي. د سترو قدرتونو نننۍ مبارزه د فارسيانو او روميانو د شخړو تکرار ده، يعنې وړاندې تر دې چې الله سبحانه وتعالی اسلامي دولت د يو ستر قدرت په توګه راڅرګند کړي.

پربېږدی! چې امت خپل اصلي حالت ته بيرته وګرځي، پر هغه څه حکم وشي چې الله سبحانه وتعالی نازل کړي وي او د الله سبحانه وتعالی په لاره کې په جهاد کولو سره ظلم له منځه يوړل شي. دا يوازې اسلام دی چې کمزوری ژغوري او مظلومانو ته عدالت ورکوي.
مسلمانان دې د نبوت پر تګلاره د خلافت دولت د بيا تاسيس لپاره کوښښ وکړي، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم يې زيری ورکړی.

**(ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةً عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ)** [احمد]

**ژباړه:** *وروسته به د نبوت پر تګلاره خلافت دولت وي.*